


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



صيام الدين « پسرلی »
د نشر نېټه : ۱۶ نوامبر ۲۰۱۲ ميلادی

# د ختيځ ادبي بهير د ۱۸ مې اونيزې غونډې راپور





ختييځ ادبي بهير خپله پرله پسې ۱۸ مه او نيزه ناسته د تل په څير په جلال اباد ښار کې د ميودوتيک په انګړ کې ترسره کړه.
دا غونډه د (۱۳۹۱ ) کال د لړ مياشتې په (۲۴) مه نيټه د جمعې په مبارکه ورځ سهار نهه بجې پيل شوه او تر غرمه ناوخته پورې يې دوام وکړ.
د غونډې پيل د رحمت الله حکيمي لخوا د قران پاک د څو مبارکو اياتونو پرتلاوت وشو او د دريځ چارې د عرفان الله بيدار پرغاړه وې.
مشرې يې دادمحمد ناوک کوله او د ميلمه پرڅوکی ورسره د لوړګي نه راغلی مېلمه نياز علي خاکسار ناست و.
د تيرې ناستې ګزارش ايمل مېروند ولوستلو او ناستو ملګرو پرې خپل نظرونه ورکړل.
زاهدالله کريمزي ګزارش تر ډېره ژورناليستيک ګزارش يادکړ او وې ويل، چې د ادبي او ژورناليستيک ګزارش ترمنځ بايد توپير وي.






په خبره یې په ګزارش کې تکراري جملې او کیلمې ډېرې راغلي وې، چې له امله یې ګزارش ډېر اوږد شوی و، هغه وویل همدا خبرې باید په لنډو جملو کې راخیستل شوې وې او د ګزارش د اوږدیدلو مخه نیول شوې وه.
دوست محمد دوست د کرکتنې د یوې غونډې لپاره همداسې بشپړ ګزارش سم وبللو.
غزت ځواب په ګزارش کې ( د لاندې ) کسانو پرځای (په لاندې کسانو سربیره) کلیمه سمه ووبلله.
نقیب احمد عزیزي هم د کریمزي ملا ترله، چې باید ادبي ګزارش او د ژورنالیستک ګزارش سره یو ځه توپیر ولري.
نوموړي هم د ګزارش د اوږدیدو خبره کوله ویل باید هغه وشي چې په لږو جملو کې ډېرې خبرې ځای شي او د ګزارش د اوږدیدلو مخه ونیول شي.
شکرالله قلندري بیا وړاندیز وکړ، چې د ځینو استادانو او محترمو اشخاصو سره باید په ګزارش کې د صیب یا ښاغلي کلیمه ولیکل شي.
محمد نادر دانش ګزارش وستایلو او زیاته یې کړه، چې د غونډې برخوال باید د خبروکولو پرمهال اختیاط وکړي، چې ګزارشګر ته ستونزه پیښه نه کړي.
هغه ویل له کرکتنې ورسته باید په کرکتنه بحث ونه شي او که وشي، نو ګزارش ګر اړ دی چې د ټولو خبرې ولیکي.
داد محمد ناوک په ټوله کې د یو بشپړ راپور په ډول ګزارش خوښ کړ، خو د ګزارش په لنډ لیکلو یې ټینګار وکړ، وې ویل په ګزراش کې دې هڅه وشي چې د غونډې مهمې خبرې راوخیستل شي او د ګزارش د ډېر اوږیدیدلو مخ ونیول شي.
پرګزارش له خبرو ورسته باید د ایمل مرووند په نثري لیکنه کرکتنه شوې وه، خو نوموړي لیکنه له ځان سره نه لرله او یوه ازاده مشاعره وشوه چې لسګونو تنو شاعرانو پکې خپل شعرونه وویل.
تر مشاعرې ورسته د دې اونۍ د ناستې مشر میلمه دادمحمد ناوک دریځ ته وبلل شو، نوموړي د بهیروالو مننه وکړه، چې د غونډې د مشرۍ پرځوکۍ د کېناستو ویاړ یې ورکړ. ترڅنګ یې د بهیر د لا پرمختګ لپاره د سمون ځینې وړاندیزونه وکړل، ناوک غونډې ته پر وخت د راتلو په اړه ډېر ډېنګار وکړ چې ملګري باید په خپل وخت غونده پیل کړي. ناوک ځینې شته ستونزې یادې کړې او د سمون لارې چارې یې ورته ووېلې.
راتلونکې اونۍ ته صاحب الله عابد ژمنه وکړه چې خپله لنډه کیسه به کرکتنې ته وړاندې کوي.
غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسیده.

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند ځرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارګان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است